**AL-AASAR Journal**
**Quarterly *Research Journal***
*www. al-aasar.com/*

***Vol. 2, No. 1 (2025)***
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

# پروفېسر محمد نواز طائر د يو فولکلورسټ په حېث

## Professor Muhammad Nawaz Tair as a Folklorist

- فرخنده[1]
- فرخنده لياقت[2]

**Abstract**

*Muhammad Nawaz Tair holds a distinguished position in the realm of Pashto literature, dedicating over fifty years to its promotion and development. His contributions span multiple areas, including creation, research, critique, compilation, and translation of Pashto works. Notably, Tair's influence extends to the preservation and advancement of Pashto folklore, an area in which he has made significant strides. He has not only safeguarded ancient folk traditions but has also embedded them into his own poetry and prose, enriching the cultural fabric of Pashto literature. Through his efforts, he has attracted and inspired other writers to explore and engage with Pashto folklore. This article highlights Tair's invaluable services to Pashto folklore and examines his role in preserving, describing, and fostering the continued growth of this integral aspect of Pashto heritage.*

**Key words**: Muhammad Nawaz Tair, Pashto literature, distinguished position, contributions, multiple areas, specialty, folklore, invaluable services, role, preserving, heritage

مونږ چې د ملاکنډ د سيمې د ابتدائي ادبي شخصياتو خبره کوو نو په دغه تسلسل کښې زمونږ سره يو نوم د پروفېسر محمد نواز طائر رامخې ته کېږي، چې ټول ژوند ئې د پښتو ادب په خدمت کښې تېر کړے دے، او د پښتو ادب څولی ته ئې د تخليق، تنقيد، تحقيق او ژباړې په ډول ډېر څۀ پېرزو کړې دي ـ پروفېسر محمد نواز طائر د ادب د نورو اړخونو نه علاوه د فولکلور په اړه د ډېرې پوهې مالک وۀ، او په ادبي ډول ئې د فولکلور په اړه دومره کار او زيار ترسره کړے دے، چې د يو ستر فولکلورسټ مقام لري ـ د هغوي په دې اړخ د بحث نه وړاندې ضروري ګڼم چې پروفېسر محمد نواز د ژوند په اړه لنډه خبره وکړم ـ

د پروفېسرمحمد نواز طائر خپل نوم "نواز طائر" وۀ ـ چې د ملاکنډ په ياد کلي تاڼه کښې ئې د خانخېلو په يوه پاکه او درنۀ کورنۍ کښې د عبدالاکبر خان په کالۀ کښې سترګې غړولې وې ـ[1] ښاغلي ليکوال رحيم شاه رحيم د دوي پېژندګلو څۀ داسې کړې ده:

> " پروفېسر محمد نواز طائر د جولايۍ د مياشتې په اوله نېټه ۱۹۳۴ء کښې په تاڼه کښې د ښاغلي عبدالاکبر خان کره د خان خېلو په درنه کورنۍ کښې زېږېدلے دے"[2]

د پښتو ادب نوموړي ليکوال همېش خليل د دوي خپل نوم "محمد نواز خان" ياد کړے دے او د دوي قلمي نوم ئې "طائر" ذکر کړے دے ـ[3] يو بل ليکوال فرمان مسافر د دوي د پېژندګلو په لړ کښې خپل معلومات څۀ داسې قلم بند کړي دي چې:

---

[1] پي ايچ ډي سکالر، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون
[2] ډائريکټر ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون

**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

’’ د ملاکنډ ایجنسۍ د تاڼې نومې کلي اوسېدونکے دے هم دغلته د جولائي کال **۱۹۳۴**ء
په وړومبي تاریخ د ښاغلي عبدالاکبر خان کره زېږېدلے دے ـ په خټه خانخیل بائزے دے"[4]

ما چې د نواز طائر د پېژندګلو په لړ کښې د ځوموه پوهانو او لیکوالانو لیکونه ولوستل نو دغه ټول د دوي د ژوند په اړه یوه خلۀ دي۔ د دغه لیکوالانو نه علاوه پروفېسر محمد نواز طائر د خپل ژوند په حقله په خپله هم تر ممکن حده معلومات په خپل اثر"ادب تراش" کښې ترسره کړي دي۔ ښاغلے په دغه مذکوره کتاب کښې خپله پېژندګلو په خپله داسې کوي:

’’ د تاڼې د خانخېلو په نومورې کورنۍ کښې په **۱۹۳۴**ء د جولائي د میاشتې په وړومبي تاریخ په ما هم د دنیا باد اولګېدو ـددې نه یو کال مخکښې زماپلار عبدالاکبر خان او دوؤ ترونو عبدالکیر خان او فضل واحد خان خپل نوي ودان کور ته کډه راوړې وه ـ دا کور په دغه ورځو کښې په ټول کلي کښې منفرد ګڼلے شو ـ مونږ په دې کور کښې پوره دوه کم شپېتۀ کاله اوسېدو ـ اخر په **۱۹۹۲**ء کښې مو ددې نه کډه وکړه ـ د **۱۹۵۲**ء پورې خو درې واړه کوره په دغه یو کور کښې په شریکه اوسېدو وروستو بیا دا کور یوائې زما پلار ته پاتې شو او زما دواړه ترونه خپل نوي کورته لاړل"[5]

پښتانۀ د خپل ژوند یو ائین او دستور لري، د دوي په کورونو کښې چې کله هم یو ماشوم راشي نو د هغۀ په روزنه او پالنه ارو مرو پام لري، کله چې هغۀ د خبرو اترو او ګرځېدو شي نو د هغه رجحانات ورو ورو د زده کړو په لور ګرځوي۔ اول پرې کوشش کوي چې مذهبي زده کړې ترسره کړي او بیا نورې۔ ښاغلے محمد نواز طائر هم د یو پښتون په کالۀ کښې پېدا شوے وۀ، په دې وجه د هغوي په زده کړو د ابتداء نه نظر ساتلے شوے دے۔ دوي په دیني او دنیاوي دواړو علمونو اراسته پېراسته وۀ۔ د خپلو ابتدائي زده کړو په اړه لیکي:

" د تاڼې ګورنمنټ هائي سکول زمونږ د کور نه یو میل ورایسته وۀ ـ مونږ به چې سحر مالې به بازار جماعت کښې د قرآن مجید ناظره سبق اووې او کور ته به راغلو نو بیا به سکول ته روان شو ـ غلام حسن بابا به راسره ملګرے ؤ ـ کله چې مونږ لوئ شو او پنځم جماعت ته ورسېدو نو په دغه معمول کښې فرق راغے بیا به په خپل سر و مخ سکول ته تلو راتلو"[6]

د خپل کلي د سکول نه د لسم جماعت پاس کولو نه پس دوي په اسلامیه کالج پېښور کښې داخله اخستې ده، او په کال **۱۹۵۵**ء کښې ئې د دغه یادې ادارې نه ځوارلسم جماعت پاس کړے دے۔[7] په دغه څلور کلنه موده کښې دوي د مختلفو ادبي شخصیاتو سره د ناستو شرف حاصل کړے دے او د بېلابېلو ادبیاتو مطالعه ئې هم کړې ده۔ د دوي په ادبي او تاریخي رغونه کښې د دغه څلور کلن سفر ډېر بنیادي لاس دے۔ د خپل دغه څلور کلن تعلیمي سفر په حقله لیکي چې:

***AL-AASAR Journal***
**Quarterly *Research Journal***
*www. al-aasar.com/*

***Vol. 2, No. 1 (2025)***
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

" د اسلامیه کالج څلور کاله ژوند زما د علمي او ادبي تربیت د ټولو نه اهم کلونه وو۔ د قسما قسم علمي ادبي او تاریخي کتابونو د مطالعې نــه علاوه دا زمانه په ادب کښې زما د عملي تربیت زمانه وه۔ په دې کښې ما د هر چا خوشه چیني وکړه۔ اردو ، فارسي ، پښتو او انګرېزي ادبیات مې مطالعه کړه ۔ د پروفېسرانو،استاذانو، عالمانو ، ادیبانو او شاعرانو په محفلونو کښې مې وخت تېر کړو ۔ تنقیدونه او تبصرې مې ولوستې ۔ د کره کتنې اداب مې زده کړۀ ۔ سره ددې چې زۀ د جغرافیې ، اکنامکس ، انګرېزي او فارسي طالبعلم ووم۔ولې بیا هم په مقامي ادبیاتو کښې ماخپل ځاے پیدا کړے وۀ ۔ "[8]

تخلیق د الله تعالیٰ یوه ناویاته پېرزوئنه ده او په خپلو مخصوصو بندګانو ئې پېرزو کوي، شاعر یا لیکوال جوړېږي نۀ بلکې پېدا کېږي ۔ او د ماحول او حالاتو سره ئې د شخصیت دغه بنیادي اړخ په ډاګه کېږي۔ د پروفېسر محمد نواز طائر په ختّه کښې هم د ادبي ذوق او تخلیق عنصر اغړلے شوے لیدے شي۔ دوي د خپل تخلیق اغاز د شاعرۍ د نظم صنف نه کړے دے۔ لیکي:

"۱۹۵۱ء کښې د مارچ په میاشت کښې زمونږ د لسم جماعت د هلکانو ته ځوک چې اوس ددې سکول د تعلیمي حد نه بهر وتونکي وو الوداعي مېلمستیا د سکول په بورډنګ هاؤس کښې ورکړے شوه ۔ په دغه موقع ما خپل جوړ کړے نظم ''خپل سکول ته الوداعي سلام'' د خپلو ملګرو د طرفه واورؤ ۔ په داسې ګڼه کښې د خپل یو نظم اورولو دا زما وړومبی تجربه وه"[9]

په ادبي حوالې سره پروفېسر محمد نواز طائر د ډېر پراخه او خور اور شخصیت مالک دے، هغۀ په یو وخت د تخلیق، تحقیق، ترجمې او نور ډېر علمي او ادبي کارونه ترسره کړي دي۔ په دغه ټولو حوالو سره د هغۀ شخصیت ښکاره دے، خو یو بنیادي او منفرد اړخ ئې د فولکلور دے ۔ د فولکلور په اړه د هغوي کار او زیار ډېر زیات دے تر دې پورې چې هغۀ د یو فولکلورسټ حېثیت لري۔
که مونږه اوګورو نو د کلتور او فولکلور رګ ریښه یو بل ته ورته هم ښکاري خو حقیقت کښې دا دواړه جدا څیزونه دي۔ اصل کښې کلتور یو کُلي څیز دے او فولکلور ئې یو جز کېدے شي چې په خپل ځان کښې ئې بیا نور ډېر څیزونه احاطه کړي دي۔ په فولکلور کښې خیالي قیصې، اساطیر، روایات، روماني قیصې، متلونه، نکلونه، سندرې، غړونه، د اتڼ نعرې، ټپې، کسرونه، سروکې، د ماشومانو لوبې او نور ډېر څیزونه شامل دي۔[10] د دې نه علاوه یو وېش د مادي، نیم مادي او غېر مادي فولکلور په حساب سره هم لري۔ د یو فولکلورسټ په حېث چې مونږ کله د پروفېسر محمد نواز طائر کار او زیار ته ځیر کېږو نو مونږ ته د هغوي دوه اړخونه په ډاګه کېږي، یو خو دا چې هغۀ په تحقیقي، تدویني او تالیفي هڅو کښې د فولکلور په اړه ډېر بنیادي کار ترسره کړے دے، او دویم دا چې هغۀ په خپلو تخلیقاتو کښې د فولکلور ډېره لویه پنګه لري۔ یعني د هغوي په همه ادبي کار کښې د فولکلور برخه موجود ده۔

**_AL-AASAR Journal_**
**Quarterly _Research Journal_**
_www. al-aasar.com/_

**_Vol. 2, No. 1 (2025)_**
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

د نواز طائر چې کوم فولکلوري اړخ دے یوه بنیادي تیګه ئې د "روهي متلونو" په شکل کښې زمونږ په وړاندې ده۔ دا در اصل د متلونو کتاب دے چې په دوؤ جلدونو کښې چاپ شوے دے، د دې نه علاوه په اردو او انګرېزۍ کښې ئې ترجمه هم شوې ده۔ متل چونکې د فولکلور مهمه برخه ده په دې وجه د هغوي په فولکلوري اړخ کښې دا هڅه د یادؤلو وړ ده۔ د فولکلور په نورو برخو کښې د ماشومانو صوتونه او سندرې هم یو اهم اړخ دے، چې ښاغلي نواز طائر په دې اړخ هم د "ماشومانو صوتونه او سندرې" په نوم یو زړۀ پورې زیار ګاللے دے، او د ماشومانو صوتونه او سندرې ئې په دغه اثر کښې مخې ته راوړې دي۔

فولکلور او انساني ژوند د یو بل دپاره لازم ملزوم دي، د فولکلور د لارې د یو قام د ژبې، بشري افکار، تجربې چې په زرګونو کاله تاریخ لري د لفظونو په ښېر مخې ته راځي او د یو اولس د فکر، دود دستور، روایاتو، اقدارو، هوښیارتوب، ملي تاریخ، اجتماعي جوړښت ژوند، کړو وړو او عادتونه زړۀ پورې تشهیر کوي۔11

څنګه چې د ژوند او فولکور کلکه رشته ده هم دغه شان د ادب او ژوند خپلو کښې کلک تړون دے - په نورو معنو کښې دواړه نۀ بېلېدونکي څیزونه دي - ادب په خپله غېږه کښې فولکلور رانغښتے دے او دغه تسلسل مخ په وړاندې روان دے - که مونږه د پښتو ادب خبره کوو نو په پښتو ادب کښې له پیلامې څخه د فولکور برخه ځلېږي - دغه برخه کله د ژوند سره د تړلو مادي څیزونو د یادؤنې په صورت کښې ده، کله د توهماتو په ډول، کله د روماني کردارونو په شکل چې د یو عصر د واقعاتو نه پرده کشي کوي او کله په نوروحوالو سره -

د ښاغلي پروفېسر محمد نواز طائر په تحقیقي، تخلیقي او نورو ټولو ادبي خدماتو کښې د فولکلور برخه ترټولو زیاته ده - هغوي که تحقیق کړے دے او که تخلیق نو د فولکور د اغېزو نه ئې په څۀ ډول ځان نۀ دے ژغورلے - په پورته کرښو کښې د فولکلور په اړه د هغوي د تحقیقي کار او زیار نه په څۀ نۀ څۀ توګه پرده پورته کړے شوه، ولې که مونږ د هغوي تخلیقي پنګې پله راشو نو هغۀ هم د فولکور زړۀ پورې برخه لري - د هغوي په لیکلے شوو ټولو شعري اصنافو کښې مونږ ته د مادي، نیم مادي او غېر مادي فولکلور په اړه ډېر څۀ مېلاوېږي -

مادي فولکلور د فولکور هغۀ قسم دے کوم چې د مادي وجود سره تعلق لري - مادي فولکلور د هرې یوې ټولنې او معاشرې بنیادي منبع ده - د فولکلور دغه برخه د کالو پټرو، تورو نېزو او نورو توکو په شکل کښې د یو قام او یوې ټولنې د کلتور اهمه حصه هم وي - د مادي فولکور برخه د پروفېسر محمد نواز طائر نه وړاندې هم د شاعرانو په تخلیقي فن پارو کښې ښکاري - لکه د مثال په توګه دا دوه شعرونه چې:

د پېـــــــــــــزوان لمبـــــــــــــو دې اوســـــــــــــوم
درســـــــــت ئـــــــــې اور کـــــــــړم ســـــــــر تـــــــــر پـــــــــائې"[12]

***AL-AASAR Journal***
**Quarterly *Research Journal***
*www. al-aasar.com/*

***Vol. 2, No. 1 (2025)***

**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

"شپه او ورځ په کښې سرونه دي دلبري
دا فلک دے په معنی' لکه میچن"[13]

که مونږه د پروفېسر محمد نواز طائر تخلیقي لیکونو پله پام وکړو نو د دوي په تخلیقي لیکونو کښې د فولکلور په اړه ډېره برخه په نظر راځي۔ دوي که یو پله په خپله شاعرۍ کښې د پښتني کلتور توکي ځاے کړي نو ورسره د دوي په کلام کښې د پښتني روماني کردارونو یادؤنې هم شوې دي۔ چې د پښتون کلتور اهمه حصه ده۔ په پښتني روماني کردارونو کښې ادم خان یو داسې نوم دے چې د خپل روماني کردار په وجه په خاص او عام کښې یو شان د مقبولیت خاوند دے۔ د ادم خان پېژندګلو ډاکټر نورمحمد دانش ښېټني داسې کړې ده:

"ادم خان چې د پلار نوم ئې حسن خان وۀ، د بازدرې اوسېدونکے وۀ۔ ډېر ښکلے حسین او ښائیسته انسان وۀ۔ د خپل حسن او ښائېست سره سره د ادم خان د رباب غږ ډېر مشهور وۀ۔ [14]"

پروفېسر محمد نواز طائر ئې ذکر په دې شعرونو کښې کړے دے چې:

صحرا شته نۀ تېشه شته نۀ رباب د ادم خان شته
د مینې محبت ټول د ستورونه دي بدلېږي"[15]

وختونو ستاسو د تیرو په تسلسل کښې لاړې
ورکې شوې څومره د درخو د ادم خان قیصې[16]

د شېرعالم او مامونۍ په نوم د پښتو ادب یو بل یاد روماني داستان تېر شوے دے چې بنیادي تعلق ئې د باجوړ د خاورې سره دے۔ دغه روماني داستان په هره حواله د ستائیلو وړ دے او چې د باجوړ ذکر کېږي نو د شېرعالم او مامومۍ تذکره ورسره لازمه ملزومه شي۔ ښاغلي پروفېسر محمد نواز طائر ئې څۀ داسې ذکر کړے دے چې:

څوک د ملالۍ یوسفزۍ سر کښې ګولۍ څروي
سم باجوړ دے مامونۍ له ارماني وطن دے[17]

لنډه چې روماني داستانونه او روماني کردارونه د فولکلور مهمه او بنیادي منبع ده۔ او د ښاغلي نواز طائر په شاعرۍ کښې په دې حوالې سره ډېر څۀ موجودي۔ په دې لاندې شعر کښې ئې هم د یاد روماني کردار مجنون ذکر کړے دے۔ وائي:

منګے که روغ رمټۀ د مجنون کپر خو مات ؤ
په ځاے وه د لیلي جوړه غوغا د رود په غاړه[18]

***AL-AASAR Journal***
**Quarterly *Research Journal***
***www. al-aasar.com/***

***Vol. 2, No. 1 (2025)***
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

پورته شعر کښې يو طرف ته يو ښځ او زړۀ پورې روماني کردار په ډاګه کوي نو د دې نه علاوه په کښې د منګي ذکر شوے دے۔ منګے د مادي فولکلور په ضمن کښې راځي۔ د دې نه علاوه دا د هر يو کور بنيادي ضرورت وي۔ د پښتنو په سيمو کښې چې کله د ګودر دستور وۀ نو هغه وخت به ورسره د خاورې منګي هم د معمول حصه وو۔ او دغه مباحث د پښتون کلتور په اړه زړۀ پورې څرګونه دي۔

ښاغلي پروفېسر محمد نواز طائر په خپله شاعرۍ کښې د ځينو نورو روماني کردارونو ذکر هم کړے دے، چې په کښې محمود او اياز شامل دي۔ وائي:

قيصه د ژوندانۀ ستا د محمود او د اياز شوه
ممتازه په هر چا ئې سرفرازه په عزت ئې"[19]

د هر يو قوم د ژوند يو ائين او يو دستور وي۔ پښتانۀ د پښتونولۍ د ائين او دستور مطابق ژوند تېروي۔ او د ژوند په هر يو اړخ کښې د پښتونولۍ د دائرې نه بهر نۀ ووځي۔ کله چې مونږه د پښتون کلتور خبره کوو نو د پښتنو همه دودونه او دستورونه په کښې د ابتداء نه ليدے شي۔ نواز طائر په خپل يو شعر کښې د پښتنو د يو ستر قدر په لور څۀ داسې اشاره کړې ده چې:

اوښکې پونه شوې ښو لار جارو کړه
د پښتون کور ته پښتني راځي[20]

پښتانۀ په مذهبي توګه زياتره مسلمانان دي، په دې وجه د دوي په دود دستور د مذهب ګڼ اثرات ليدے شي۔ د دوي چې کوم روايات او د ژوند طور طريقې دي نو په هغو باندې زياتره د مذهب رنګونه غالب دي۔ شوقدر د پښتنو په سيمه يوه ياده موقع وي، چې دوي ئې په خوشحالۍ نمانځي۔ نواز طائر ئې داسې ذکر کړے دے:

په کور شوقدر ديوالي به کوي
خوار به غمونه په خندا تېروي[21]

د فولکلور بريدونه ډېر پراخه دي، د ژوند زياتره څېزونه ئې په خپله غېږه کښې احاطه کړي دي۔ د فولکلور بنيادي طور سره درې لوے قسمونه دي، چې يو په کښې نيم مادي فولکلور دے۔ په نيم مادي فولکور کښې توهمات، لوبې، ګډا وغېره شامل وي۔ د نيم مادي فولکلور په حقله ښاغلے فرهاد وسيم يوسفزے څۀ داسې ليکي چې:

" د اولسي ادب هغه مواد يا اصناف چې څه خو په يادو لکه د شفاهي ادب منتقل شوے وي او څه د ليک لوست په لاره لکه کتابي شکل کښې يا داسې څه بل دليل او ثبوت لري چې په ليک کښې راغلے وي او په دې کښې زيات تر اولسي قيصې، اولسي سندرې، ټپې، چاربېتې، امروزې او محاورې شامل دي۔ يعنې داسې اصناف او مواد چې هم په يادو او

**AL-AASAR Journal**
**Quarterly *Research Journal***
*www. al-aasar.com/*

**Vol. 2, No. 1 (2025)**

Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

هم په ليک لوست کښې د يو نسل نه بل ته منتقل شوے وي نو هغه نيم شفاهي ادب منلے او ګڼلے شي "[22]

د پروفېسر محمد نواز طائر په شاعرۍ کښې د نيم مادي فولکلور اړخ هم په ځۀ نۀ توګه موجود دے . لکه چې په خپل يو شعر کښې ئې د کوډګرو او جادوګرو ذکر څۀ په دې ډول کړے دے چې:

پـــه هغـــي خيـــال ســـتا د محفـــل نـــه چـــي بهـــر راوتـــم
زۀ د کـــــوډګرو جــــــادوګرو پـــــه نظـــــر پرېــــوتم[23]

يو بل شعر کښې وائي:

دا د دې د زړۀ اواز دے کــــــــــــه جــــــــــــادو دے
د مــــور مينــــه چــــي پــــه هــــيڅ نــــۀ ده ايســــاره[24]

د فولکلور په قسمونو کښې مادي فولکلور يو مهم قسم دے ۔ هره يوه ټولنه د فولکلور تر ټولو زياته دغه پنګه لري ۔ د مادي فولکلور نه بغېر هره يوه ټولنه نيمګړې ده ۔ مونږه که د کوم يو شاعر کلام ګورو نو د مادي فولکلور برخه په کښې ضرور شامل وي ۔ د مادي فولکلور په حقله فرهاد وسيم يوسفزے ليکي:

"د اولسي ادب هغه برخه چې ليک لوست کښې هم خپل وجود لري خو د ليک لوست سره سره خپل مادي وجود هم لري يا ورکښې څۀ مادي څيزونه پکارولے شي لکه (ارټ) انځورګري او دستکاري، زاړه کالي پتري، پيسي ټکې، جامه جوړه، پېزار، د ټنګ ټکور آلات وغېره" [25]

د مادي فولکلور تعريف يو ليکوال داسې کړے دے:

" په مادي فولکلور کښې هغه څيزونه شامل دي چې وجود لري ۔ مادي حېثيت لري او په يو قام کښې د لرغوني زمانې راسې پکارولے شي خو ورومبے پکاروونکے او جوړوونکے ئې معلوم نۀ وي"[26]

انسان چې کله نه په دنيا کښې پېدا شوے دے او د دۀ کوم بنيادي ضرورتونه دي نو په هغو کښې لباس هم شامل دے ۔ لباس د مادي فوکلور يو بنيادي څيز دے ۔ لباس په مختلو څېزونو اړه لري يو په کښې نقاب هم دے ۔ ښاغلي نواز طائر ئې داسې ذکر کړے دے :

"پــه لټــون مونــدلے نــۀ شــي پــه کتــو نــۀ ليــدے کيــږي
دا احســاس مــې ګونــدې مــړ دے کــه پــه مــخ د يــار نقــاب دے"[27]

زمونږ ټولنه مجموعي طور بې شمېره مادي څيزونه لري ۔ لکه دېوال، کور ، کنډر او داسې نور ۔ د نواز طائر په دې شعرونو کښې ئې ذکر شوے دے:

***AL-AASAR Journal***
**Quarterly *Research Journal***
*www. al-aasar.com/*

***Vol. 2, No. 1 (2025)***
**Online ISSN: 3006-693X**
**Print ISSN: 3006-6921**

"غمونــــه تـــل پــــه دېوالـــۀ ښـــادي پـــه ورونـــو راځـــي
ګوګـــل قفـــس کښـــي بنـــديوان قفـــس ئـــې ورنـــۀ لـــري"[28]

"دا د زړۀ کـــــــور مـــــــې کنـــــــډر دے بـــــې چراغـــــــه
دغـــــه کـــــور بـــــه منـــــور شـــــي کـــــه تـــــه راغلـــــې"[29]

د پروفېسر محمد نواز طائر په شاعرۍ کښې د مادي فولکلور په لړ کښې د هغوي دا شعرونه هم د پېش کولو وړ دي چې په څۀ نۀ څۀ حواله د مادي خيزونه تذکره لري:

زۀ د غمونـــــو پـــــه ټـــــال زانګمـــــه مـــــودې اوشـــــولې
دا مـــــې نصـــــيب دے چـــــې زمـــــا برخـــــه اختـــــر نـــــۀ لـــــري[30]

ســـپينه پيپنـــۍ تـــوره پګـــړۍ د طالـــب جـــان نخښـــه ده
بلـــه جامـــه بلـــه پګـــړۍ د ده پـــه ســـر څـــۀ کـــوي
نـــۀ هلاکـــو دے نـــۀ چنګېـــز خـــو ســـتم ګـــر غونـــدې دے
د مـــرګ طالـــب دے، دے حجـــره جومـــات ګـــودر څـــۀ کـــوي[31]

اولـــس ئـــې ټـــول درويـــزه ګـــر دے خيراتونـــه غـــواړي
ټوپـــــک پـــــه لاس د طالبـــــانو جهـــــادي وطـــــن دے[32]

او يا وراندې دا شعرونه چې:

هغـــه چـــې مـــونږه پـــرې وعـــدې د رفاقـــت کـــولې
هغـــه ګـــودر هـــم نړېـــدلے دے يـــواځې يمـــه[33]

واعـــظ لګيـــا دے د شـــپونکي شـــپېلۍ پـــه اور ســـوزوي
ټـــول تـــرې زړونـــه د نســـيم او د کـــوثر پـــه طمـــع[34]

يـــو د لـــوړې مـــرې او بـــل ئـــې ســـر تـــه پراتـــې ګـــورې
خپـــل غـــرض اخســـتے بـــازارې تـــه ګنـــاه نشـــته دے[35]

لنډه دا چې د يو فولکلورسټ په حېث پروفېسر محمد نواز طائر د منفرد شخصيت خاوند دے، هغوي په خپلو تحقيقي او تخليقي ليکونو کښې دې لور ته په شعوري توګه او ترټولو زياته پاملرنه کړې ده. د فولکلور په حواله هغوي يو ګټور کار کړې دے . دغه کار په دې بنياد د ډېر ارزښت او اهميت وړ دے چې

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

هغوي زمونږ دغه قيمتي اثاثه د ضائع کېدو نه ژغورلي ده. او نوؤ ليکوالو ، څېړنکارانو ته ئې د فولکلور په حقله د څېړنو نوې لارې او ګودرې سمې کړې دي . چې د محمد نواز طائر نه پس پرې يو شمېر محققين او ليکوالان ګامزن ښکاري او پښتو ادب ته ئې د فولکلور په حواله ډېرې لاس ته راوړنې وکړې . چې دا هم د نواز طائر د فولکلوري هڅو يو ژور اثر راښائي. ددې بره دومره اوږد بحث په نتيجه کښې مونږ دا په ډاډه زړه وئيلې شو چې محمد نواز طائر به هر لحاظ يو منلې شوې فولکلوريسټ وه. چې دپښتنې فولکلور په خوندي کولو او دې له د ودې په اړه ئې خدمات د نه هېرېدلو دي .

حوالې

---

[1]شېرزمان سيماب، ډاکټر،په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء، پښتواکېډمي پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۲۱

[2]رحيم، رحيم شاه، واؤرينې څوکې، جواد پرېس پېښور، دسمبر ۱۹۸۶ء، مخ ۳۱

[3]همېش خليل، د قلم خاوندان، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۹ء، مخ ۲۷۹

[4]مسافر، اخونزاده فرمان، د پښتو ادب ځلنده ستوري ، حميديه پريس پېښور ، اګست ۱۹۸۴ء ، مخ ۲۹

[5]طائر، محمد نواز، پروفېسر، ادب تراش ، جدون پرنټنګ پريس خېربازار پېښورښار ، نومبر ۲۰۰۲ء ، مخ ۹۰

[6]مسافر ، اخونزاده فرمان، د پښتو ادب ځلنده ستوري ، حميديه پريس پېښور ، اګست ۱۹۸۴ء ، مخ ۹۷

[7]هم دغه اثر ، مخ ۲۹۳

[8]طائر، محمد نواز، پروفېسر، ادب تراش ، جدون پرنټنګ پريس خېربازار پېښورښار ، نومبر ۲۰۰۲ء ، مخ ۱۱۴

[9]طائر، محمد نواز، پروفېسر ، 'ادب ساز، کتوزې پرنټرز جي ټي روډ پېښور ، ۲۰۱۰ء ، مخ ۲۰۲

Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

[10]سلیم بنګش،پروفیسر محمد نواز طائر د یو فولکلورسټ په حېث مضمون مشموله "تکتو" ۱۳ ګڼه، اپرېل تا ستمبر ۲۰۱۷ء، مخونه ۴۳، ۴۴

[11]علي محمد ، فولکلوري ګېډۍ، پښتو ټولنه کابل، ۱۳۵۵ش، مخ ۹

[12]ابدالي، احمد شاه، دیوان احمد شاه ابدالي، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، مخ ۱۲۷

[13]خټک، کامګار خان، دیوانِ کامګار خان خټک، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، چاپ کال نۀ لري، مخ ۱۱۹

[14]ببټړے، ډاکټر نور محمد دانش، د پښتو ټپي عمراني مطالعه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۸ء، مخ ۴۰۶

[15]طائر، محمد نواز، پروفیسر، ورستے دیدن، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۰۹ء، مخ ۱۲۹

[16]طائر، محمد نواز، پروفیسر ، سلګۍ، عامر پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۶ء، مخ ۹۳

[17]هم دغه اثر، مخ ۲۰۷

[18]هم دغه اثر، مخ ۱۲۲

[19]طائر، محمد نواز، پروفیسر، د بوډۍ ټال، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۶۵

[20]طائر، محمد نواز، پروفیسر ، یادونه ارمانونه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخ ۷۲

[21]هم دغه اثر، مخ ۵۸

[22]یوسفزے، فرهاد وسیم، فولکلوري ادب، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۹ء، مخ ۸۷

[23]هم دغه اثر، مخ ۳۹

[24]طائر، محمد نواز، پروفیسر ، یادونه ارمانونه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخ ۳۱

[25]یوسفزے، فرهاد وسیم، فولکلوري ادب، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۹ء، مخ ۸۸

[26]یوسفزے، نورالامن، فولکلور او د پښتنو فولکلور، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۹ء، مخونه ۵۰، ۵۱

Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

[27] طائر، محمد نواز، پروفېسر ، يادونه ارمانونه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۷ء، مخ ۲۸

[28] هم دغه اثر، مخ ۳۰

[29] هم دغه اثر، مخ ۳۴

[30] هم دغه اثر، مخ ۳۰

[31] طائر، محمد نواز، پروفېسر ، سلګۍ، عامر پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۶ء، مخ ۲۵۴

[32] هم دغه اثر، مخ ۲۰۷

[33] هم دغه اثر، مخ ۱۵۸

[34] هم دغه اثر، مخ ۱۸۴

[35] هم دغه اثر، مخ ۲۷